ع، شیر زوی ۲۰۱۶/۰۵/۰۳

# د ډیورند د کرغېړنې او استعماري کرښې

## تیر شوی بهیر

### لومړۍ برخه

مخکې له دې چې پر اصلي موضوع بحث وکړم، پدې وختو کې یو ځل بیا د ډیورند د منحوسې کرښې په تړاو د خود غرضو هیوادو له خوا نارې سورې پیل شوي دي، په دې اړوند د افغانستان او پاکستان له پاره د امریکا پخوانې ځانګړې استازې« جمیزډانبز» د ډیورند کرغېړنې کرښې په تړاو وایې: چې د ډیورند کرښه باید په نړیواله سطحه د یوې رسمی پولې په توګه وپیژندل شي، نومومړې په کابل کې د یو خصوصی ټلویزون په مرکه کې ویلي دي: «دا د پاکستان له لورې د ډیورند په رسمیت پیژندولو کوم فشار ندي او نه هم پدې خاطر تر سره کیږي» د جان کیرې له ډاګیزې او بربنډې لاس وهنې وروسته دا دویم امریکایې سیاستوال دی چې د افغانستان د داخلي چارو په اړه په څرګنده توګه ورته تبصری کوي. «جمیز ډانبز» په داسې حال کې د ډیورند د کرښې د رسمیت پیژندولو غبږ راپورته کوي چې د ولسمشرغنی د واک په لومړیو کې د دې کرښې د رسمیت پیژندولوخبرونه خپاره شول.
د بهرنیانو دا ډول څرګندونې د عامه ذهنیت د اړولو هڅه ده، تر څو د افغان دولت له لورې دا غبږ راپورته او په مقابل کې یې ځوک غبږ اوچت نکړي، دا غبرونه پداسې حال کې را پورته کیږي چې پاکستاني ځواکونه دم ګړۍ د ډیورند د کرښې څخه لسګونه کیلو متره په افغان خاوره کې تاسیسات لري او آن هوایې عملیات کوي، په تیرو دیارلس کلونو کې د پاکستان د حکومت د نظامی هډو او قراولونو څخه « ۱۰۱۰ » راکټونه د کنړپه ولایت توغول شویدي، پاکستان غواړي د کنړ د ولایت قیمتی ډبرې، لرګې تر لاسه او د کنړد سین د پاسه د بند د جوړولو مخه ونیسي او افغانستان د تل له پاره د پاکستان مصرفې بازار وي، همدا راز د کنړ او پکتیکا په ولایاتو کې د ۲۰۰ کیلو متره په اوږدوالۍ زمونږ پاکې خاوری ته راننوتي دي همدارنګه ځو خود فروشه او تالې څټو ته یې په پاکستان کې کورونه او شناختی کارتونه ورکړي دي، تر څو د ولس د برحقه غوښتنو په مقابل کې خنډ وګرځي، خو د دې نه غافل دي چې د خړ سیلاب مخه خس او خښاک نشی بندولي، د نړیوالو قوانینو پر بنسټ د ډیورند کرښه له منځه تللي ده، کوم ملک سره چې د افغانستان دولت کوم سند امضا کړي و هغه دولت اوس شتون نلري پاکستان په وچ زورد خپلو بادارانو پر مټ چا چې په پردې خاوره پاکستان د منطقې د ژاندارم په رول کې رامنځ ته کړ او پاکستان د خپلو مفاداتو په خاطر پدې سیمه کې حضور پیدا کړي پدې اړوند ښه به دا وي چې د ډیورند د کرښی په تړاو د هغې تیر شوي بهیر ته راوګرځو او هغه لاسوندونه چې په نړیواله کچه شتون لري تر بحث لاندې ونیسو. د انګریز د هیت څخه وروسته چې د ۱۸۰۸ او ۱۸۰۹ م کالو تر منځ د « الفنستون » د ریاست لاندې د هر اړخیزې څیړنې او تحقیق په خاطر زمونږ ګران هیواد افغانستان ته د انګلیس د مقاماتو له خوا را لیږل شوي وه ، همدا لید نه د انګریزانو له پاره د نظامی عملیاتو د پروګرام د سند په توګه وپیژندل شوه.
په ۱۸۹۳ م کال کې یو انګریز د« سرما تیمور ډیورند» چې د برتانیوی هند د بهرنیو چارو د وزیر رول یې ادا کاوه د ټاکل ښوې هیت په مشرې کابل ته راولیږل شوه، وروسته د څلویښت ورځو استوګنې په کابل کې او د دیورند د تحملې کرښې امضا کول په امیر عبدالرحمن باندې د تفرقه واچاوه حکومت وکړه د سیا ست پر مټ داسې سرته ورسوله چې کورنۍ؛ وروونه یو د بل څخه بیل او د دې منحوسې کرښې دواړو خواته پاتې شول.
دغه تحملي تړون په داسې یو حالت کې سرته ورسیده چې امیر د برتا نیوې هند د ډیر زیاد فشار لاندې راغلي وه، ددې معاهدې د موادو د تفسیر پر اساس د برتانیوې هند مقاماتو یوه مهمه او ستراتیژیکه برخه د افغانستان د سرحداتداتو څخه پرته ددې چې موعد او نیټه پکې تعین او تثبیت شوي وي د برتانیوی هند تر مستعمرې لاندې راغلۍ و پدې وخت کې هند او افغانستان دواړو د آزادې او بهرنې سیاست خاوندان نه وه.
امیر مطلق العنان د برتانیا د ملا تړ څخه برخمن و. پدې مرحله کې بدون ددۍ چې د ولس د اکثریت د توافق رایه واخستل شي یوه ستره؛ مهمه او ستراتیژیکه برخه د افغانستان د اصلې خاورې څخه د امیر د امضا پر اساس د پیسو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاږوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

په بدل کې د افغانستا ن د بدنۍ بيله پيژندل کيدای شي .د دې څخه ستره او حيرانوکې خبره دا و چې د معاهدې د څلورمې مادې پر بنسټ سرحدي او صفرې نقطو د علامه ګذارې په مختلفو مرحلو کې چې د انګريزي نقشه ويستونکو په واسطه بدون د دې چې افغاني هيت حضور ولري سرته رسيدل چې د انګريزانو دا خپل سرې کړنه د تړون د څلورمې مادې پر خلاف يو ظالمانه عمل او وچ تيرې وه . مهمه موضوع پدې کار او عمل کې د امير فيصله دا و چې تړون يې پخپل سر د قوم د مشورې پرته سرته ورساوه پدې وجه د وطن غوڅ اکثريت د عکس العمل سره مخامخ شوه.دې وخت کې انګريزانو موافقه وکړه تر هغه وخت پورې چې امير خپل ولس رو رو پوه کوي او دهغوي قناعت حاصلوي تر هغه وخت پورې دغه تړون افشا نشي .انګريزان پدې پوهيدل چې دا پريکړه ولسې پريکړه نده د ولس د غوڅ اکثريت ملا تړ څخه بې برخې ده صرف د دو کسانو تر منځ « ډيورند او امير » تر منځ شخصی پريکړه ده چې د افغانستان خلک له هغې څخه کومه اطلاع نلري ؛ يا په بله بڼه ويلې شو چې امير د قدرت انحصار په لاس کې نيولي و او دخپل ولس سره په جګړه کې وه .ددې تړون د امضا څخه ورسته غبرګونونه د وطن په کوټ کوټ کې ددې تړون پر ضد په قبايلي سيمو کې د قبايلو د سردارنو ؛ دينې علماو ؛ محلی مشرانو له خوا راپورته او د امير دا عمل يی په کلکه وغنده ځکه چې د امير دا عمل يو ساده او بی ارزشه عمل نه و د امير دا عمل يو لوی قوم ؛ يو وجود د جبر او د ظلم په توره نيم کړ دا دواړه نيمې تنې د بې روحه کالبد په بڼان د نيم ځانه مرغه په څير تر اوسه د انګريز پدی خور شوي جال کې د خلاصون لاس او پښې وهي ددې ناوړه آثرات په وجه په اکثره ځايونو کې د نارامی سبب شول . ددې څخه ورسته امير په خپله اشتباه وپوهيده خو اوبه له ورخه تيرې وي نه يوځې دا چې د افغانستان په سرحدی او صفری نقطو کې د علامه ګذارې په بهير کې ګډون ونکړ ورستې برخې يی نا تمامه پريښودلې څوځلې د انګريز استازو غوښتنه وکړه خو امير په مختلفو بهانو ځان تيرباسه او ويل يی چې تر اوسه ما د لمړۍ پريکړۍ څخه خپل ولس ندی خبر کړي کچيری لمړی فيصله خپلو خلکو ته ووايم د افغانانو او انګليسانو تر منځ به جګړه رامنځ ته شي .برتا نيوی هند پدې اړه امير ته ليکونه ورليږي تر څو د افغان د لورې هيت و ټاکل شي هغه پاتې سرحدې نقطې چې علامه ګذارې شوې ندي کارې يی سرته ورسپړي ترڅو اختلافات له منځه ولاړ شي او وکوالاي ښو د دو ګاونډ ينو په حيث يو د بل په خواکې ژوند وکړو امير عبدالرحمن خان د هغوي په ځواب کې ليکي :ما تر اوسه پورې موقع او توانايی نده پيدا کړي چې د پخوانيو سرحداتو تعينات له خپل ولس سره شريک کړم او هغوي ته قناعت وکړم هغوي پدې پوه دي څرنګه کوالای شم د سرحدونو دعلامه ګذاری دويم پړوا پيل کړم کچيرې ددې موضوع څخه د وطن دينې عالمان ؛ روحانيون ؛ قومې مشران او د هيواد پوهان د وطن په اوسنې شرايطو کې خبر شي يقين لرم چې جګړه به د برتانيا سره پيل چې زه يی چاره نلرم ميمورانډوم يا تاريخې ليکنه يی د برتانيا حکومت ته اطلاع ورکړه او ځواب ورکوي تر آخرې ورځې پورې چې ژوندی يم د افغانستان د سرحداتو د تعين او علامه ګذاری په اړوند به يو قدم د برتانيوې هند سره پر مخ ولاړ نشم په همدې بڼه يی پريږدم او د هغوي ليکونه ته جواب ورکوم ( چې ددې تړون جبروالۍ او زور واکی په خپل ځای ثابت پاتې ښي ) هيله من يم زما زامن په راتلونکې کې د ومره زور او قوت خاوندان شي چې د خپل حق څخه دفاع وکړي او په په يو ښکلې تړون سره د افغانستان څلور خوايی وټاکي.

پدې کې نور داسې هم ليکل شوي وه : (زه فکر کوم په ډير نږدې وخت کې به د هند ولس راويښ شوي مسلمانان د خپل حق او آزادی څخه ملا تړ وکړي او په قوی باور سره به دوه هندوستانه رامنځ ته شي)

»هندو هندوستان او مسلمان هندوستان « مسلمان هندوستان زمونږ د هيواد سره هم سرحده او شايد زما د خلکو او زما د زامنو له پاره درد سر پيدا کړی ددې ليکونو نور مثالونه په څو ليکونوکې « لارد کرزن » او نورو برتانيوی چارواکو ته سپارل شويدي شتون لري چې د امير د سياسي هوښيارتيا سياسي شعور او څه نورې وړاندوينې او هغې د نه موافقې د سرحدونو د تعين په هکله وي ؛ هغه مکتوبونه او ليکنې چې د امير عبدالرحمن خان ورسته د امير حبيب الله خان ؛ امير امان ا لله خان ؛ محمد ظاهر شاه د پاچهيو په دوران کې د برتانيا د حکومت سره او يا د هغوي د حکومت خود مختاره وزارت په کابل کې ردو بدل کيدل چې هغوي ته په څغلنده کتنه باندې بساينه کوو.

د امير عبدالرحمن خان د مرګ څخه ورسته د هغې زوی امير حبيب الله خان په ۱۹۰۱ م کال په تخت کيښنا ست د هغې د واک په لمړيو څلورو کلونو کې يو تعداد پوهانو ؛ لوړ رتبه افسرانو ؛ ړوند اندو او يو تعداد هغه مبارزينو چې انګريزې ضد روحيه يی

درلودله او خپله امير هم چې د ډيورند د کړغيړنې کرښې سره يی جدأ مخالفت درلود ؛ د نومړی په هکله ويل کيږي چې کله يی پلار دا تړون امضا کاوه امير د هغه کسانو په لړ کې وه چې ددی تړون سره يی خپله سرکشې او بغاوت يی د انګريزانو غوږو ته ورساوه ترڅو چې د برتانيا له خوا يو هيت د « لوُيس دين » په مشری کابل ته راورسيده او د امير سره يې نوی او تازه تړون لاسليک کړ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دغه تړون د افغانستان د بهرنیو چارو به وزارت کې شتون لري او په یو لړ نورو تاریخي کتابونو کې هم ورڅخه یادونه شویده« پدې نوی تړون کې یادونه شویده چې افغانستان لکه د پخوا په شان بهرني کړنيې يې د برتانيوی هند تر نظر لاندی سرته رسيږي؛ پخواني قراردادونه پخپل ځای استواره او وطن د استقلاله بخير»
دوه کاله ورسته يعنې په ۱۹۰۷ م کال روس او برتا نیا په خپلو کې یو تړون لاسلیک کړ چې ددې تړون به ایران په دریو منطقو وویشل شي یوه منطقه به دروس د کنترول د ساحې په نوم ونومول بنې بله ساحه به د برتانیا تر نظر لاندې او دریمه منطقه به د آزادی ساحې په نومونو وویشل شي ؛ د افغانستان په هکله انګلیس روسانو ته ډاډ ورکړ چې پدې هیواد کې کوم بدلونه ندی رامنځ ته بنوي او ژمنه کوي چې ددې ځايه څخه هيڅ ډول خطر روسانو خواته متوجې نشي ، روسانو د انګلیس خبره ومنله او د خپل د استازی د رالیږولو څخه يې ډډه وکړه او د هغې اداره کول د برتانیا له لورې مني ؛ او دا هیواد د خپل د ساحی د نفوذ څخه بهر ګني ؛ یعنی دا ډول هیوادونه د خپل منځې شخړو د رامنځ ته کولو په اساس په خپلو کې اداره کوي.
همدا چې برتانیوی هیت د دې تړون یوه کاپې امیر حبیب الله خان ته سپاري امیر د ځانه هيڅ قسم غبرګون نه بنې او د نظر د ویلو څخه ډډه کوي ځکه چې د آزادی غوښتنې غورځنګ د مشروطیت غوښتنکو او د سراج الا اخبار د جریدې په خپریدلو سره په ټولنه کې د خلکو د افکارو په رڼا کولو کې ستر رول ولوباوه او خلکو ته يې ذهنې ړوند والی ورپه برخه کړ . ددې تړون تاثيرات ورته ورسته بنه بنکاريدل چئ په پایله کې انګریزانو ددې جریدې د خپریدو سره خپل کلک مخالفت اعلام کړ او د هغې د بندیز غوښتنه يې وکړه ؛ ددوي غوښتنه منل کيږي د جريدي خپروني معطل کيږي ؛ ددي سره جوغت د مشروطه غوښتنکو معقول او انساني آوازونه پورته کيږي او د امیر څخه غوښتنه کوي چې مشروطه غوښتونکو ته د ویلو آزادی او لازمه پاملرنه وکړي؛ امیر د خلکو د دغې انسانې غوښتنې څخه خفه کيږي او په ډېر عصبی حالت سره ځلور تنه مشروطه غوښتونکې په قتل رسوي او نور بې حده تهدیدوي.
دامیر په دربار کې درې ګروپه اصلاح غوښتونکو شتون درلود:
ـ لومړی ګروپ د انګریزانو او روسانو سره په محالفت کې د ترکيې او اسلام پلویان و؛ نصرالله خان د امیر حبیب الله خان ورور دینی علماو او محافظه کارانوسره یو خای د روس او انګریز سره مخالف ؛
ـ دویم ګروپ عنایت الله خان د امیر حبیب الله خان مشر زوی مساوات غوښتونکې او د ترکانو سره يې د همکاری او نږدې والې غوښتونکې وه؛
ـ دریم ګروپ د امان الله خان تر مشرۍ لاندې چې د محمود طرزی د نیغې لاربنونې څخه برخمن و د آزادی غوښتونکو ؛مشروطه خواهانو ؛ اصلاح غوښتونکو څخه را جوړ وه .
پدې وخت کې په نړۍ کې یو لړ پیبنې رامنځته بنوي وي چې د افغانستان په روانو حالتو او ځانګړې ډول د ډیورند د معاهدې په کړغیرنې پیبنې تاثیر اچولي و:
۱ : تزاری روسیه د جاپان د هیواد سره په جګړه کې د ماتې سره مخامخ شوي وه،
۲ : د آلمان هیواد د پر مختګ په لور روان و او اروپایې هیوادونه يې تهدیدو،
۳ : د يوې لورې څخه روسان ایران ته لیواله او د بلې لورې انګلیسانو په ډیره مینه افغانستان ته کتل د غرض او د لالیچ پلانونه يې سنجو،
۴ : د آلمان د نظامې ودې په پایله کې روس او برتانیا سره نږدی شول چې د افغانستان د بی طرفې د کړنلارې وسیله هم و ګرځيده ځکه چې رورسانو افغانستان د خپل د نفوذ د دایرې څخه بهر پيژنده.

د لومړۍ برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ